هفته نامه
دجهاد هنداره
مـراة الجـهـاد
لومړی کال ، (۳۷)گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دجوزا (۱)

په گردیز کی مجاهدینو یوه الوتکه اوشپږ ټانکونه له منځه وړي دي

دجهاد هنداری خبریال دپکتیا له ولایت دالحاج مولوی جلال الدین حقانی له جبهاتو څخه درادیویی پیغامونو په حواله ویلی دی چی مجاهدینو په ګډو بریدونو کی دکابل رژیم دګردیز ښار په لویدیځ برخه کی دکلال ګو غرنی سیمی کی دثور په ۲٦ مه نیټه دکابل رژیم په اکمالاتی قوی باندی چی ددولت خان ولسوالی ، غزنی ، وردګو اونورو ولایتونو داکمالاتو لپاره یی په کار اچولی و سخته حمله وکړه . اتم مخ کي

ولســوالي خواجه غار (مرکز ولایت تـخار) بدسـت مجاهـدیـن فتـح شد

صفحه ۲

په پغمان کی درژیم یوه پوسته مجاهدینو ته تسلیم شوی

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی ،چی مجاهدینو دثورپه ۲۲مه نیټه دپغمان په ولسوالی دپشه یی دری په سیمه کی درژیم یوه امنیتی پوسته چی مهمه اواستراتیژیکه تپه ده دسلاح مهماتو اوساتونکو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی ده .

درپوټ مطابق په نوموړی نیټه دارغندی اوقلعه حیدرپه سیموکی دمجاهدینو په یو برید کی درژیم دپوستو ۲ تنه عسکر وژل شوی او ۳ تنه نور ټپیان شوی دی

دروسیې حکومت په صنعتی او اقتصادی شعبو کی په اعتصابونو اومظاهرو باندی بندیز لګولی

مسکو ، دثور ۲۸ مه :

دروسیې حکومت ددی هیواد په مهمو اقتصادی ډګرونو کی په مظاهره اواعتصاب باندی بندیز لګولی.

ویل کیږی چی دروسی حکومت دغه اقدام دهغه ډول اعتصابونو مخه نیسی کوم چی تیره میاشت ددی هیواد دډېرو سکرود کارکوونکو له خوا په لاره اچول شوي و .

ددی نوی فرمان په اساس هرهغه څوك چی ددی دول اعتصابو او مظاهرو لپاره هڅه او کار وکړی هغه به مجرم ګڼلای شی او محاکمه به شی .

دغه نوی فرمان پداسی وخت کی رامنځ ته شوی چی دروسیې هیواد دهوایی پیلوټانواو هوایی ترافیکو اوڅارونکو له خوا داعتصاب اعلان شوی دی .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني له یو شمیر پیلوټانو سره دخبرو په ترڅ کی وویل :



ACKU

دقوماندانــانو شــورا هڅـه کـوي چې په هیواد کې یوه متحده اوسالمه اداره جوړه کـړی شـي

دوهم مخ کی

دبغلان په ولایت کی درژیم دملیشه و دری پوستی فتحه شوی

بغلان میډیا :

میډیا په پیښور کی دبغلان ولایت دیوی جبهې نمایندګی په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دثور میاشتی په ۱۷ مه نیټه دپلخمری دښارپه جنوب لویدیځه دعزیزیانو په سیمه کی دکیان دملیشه ډېر پوستو باندی یو تعرضی برید وکړ چی په نتیجه کی یی دملیشه و ۳ پوستی فتحه او ۳٦ تنه ملیشه یی له وسلو سره ژوندی نیولی دی .

رپوټ وایی چی مجاهدینوپه دغه برید کی درژیم یوشمیر ملیشان مړه او ټپیان کړی او یوشمیر درندی اوسپکی وسلی یی په ولجه نیولی دي .

همدارنګه دمجاهدینو څخه په دغه برید کی ۲ تنه په شهادت رسیدلی دی .

همدارنګهٔ میډیا دیو بل خبرمطابق دثورپه ۲۱مه نیټه دبغلان ولایت دتاله اوبرفك په علاقه داری کی دسید کیان پرپوستو برید شوی چی دهغی په نتیجه کی دکمونست رژیم یوه عراده زغروال ټانك دسپرلیو سره له منځه وړل شوی دی .

دکابل ولایت په بیلا بیلو سیمو کې دمجاهدینو عملیات

کابل ، جهاد هنداری خبریال :

زموږ خبریال په پیښور کی دقوماندانانو شورادنظامی دفتر په حواله خبر راکړی چی دکابل ولایت زړورو مجاهدینو دثور په ۲۳ مه نیټه دسروبی ولسوالی ددافع هوا په مرکز باندی برید وکړ چی په نتیجه کی ددښمن یوعراده موټر وسوځول شو ، یوپایه توپ یی له منځه ولاړ او پنځه تنه عسکر یی ووژل شول همدارنګه ددښمن ۹ تنه پلویان ټپیان شوی دی .

دهمدی دفتر دیوه بل خبر له مخی مجاهدینو دکابل ولایت دچکریو په سیمه کی ددښمن پرقواو باندی ددرنو وسلو برید وکړ چی په نتیجه کی ددښمن دوه عرادی ټانکونه او ٥ عرادی موټر له منځه لاړل ، ددښمن ۱۰ کسه عسکر مړه ، او یو تن په اسارت ونیول شو پدی عملیاتو کی ٥ تنه مجاهدین هم ټپیان شوی دی .

دنظامی دفتر دیوه بل خبر له مخی مجاهدینو دثور په ۲٦ مه نیټه دپغمان په ولسوالی کې ددښمن پرپوستو برید وکړ چی ددښمن یو زیکاویك تخریب او څلور تنه عسکر او یو صاحب منصب ووژل شول .

یوتن قوماندان دشپږو مجاهدینو سره د ثمرخیلو په محاذ کی شهیدان شوی دی

دننګرهار ولایت څخه میډیا ته په رارسیدلی رپوټونو کی ویل شوی دی چی دمحاذ ملی اسلامی دتنظیم دقوماندان شمالی یو تن سرګروپ داورنګ په نوم دشپږ تنو مجاهدینو سره چی په یو موټر کی سپاره وه دثمرخیلو په محاذ دروداتو ولسوالی په دوسروکی دثورپه ۲۳ مه نیټه دکمونستی رژیم دقطرغی سوق الجیشی تپی دټانکونو په ډزو ولګیدل اوپه شهادت ورسیدل او موټر یی ویجاړ شوی دی .

درپوټ مطابق دقوماندان اورنګ (کوچی) اودنورو مجاهدینو جنازی په یوه امبولانس کی پیښور ته راوړل شوی اودباغبانانو په کمپ کی خاورو ته سپارل شوی دی .

پدی پیښه کی موټروان ټپی شوی چی صحی حالت یی ښه او په روغتون کی تر علاج لاندی دی.

دڅلورو جهادی تنظیمونو مشران له ایرانی مقاماتو سره خبری کوی

د بی ، بی ، سی رادیو دثور ۳۰:

په پیښور کی ددریو تنظیمونو مشرانو اودڅلورم تنظیم مرستیال ایران ته ورغلی اوغواړی چی دایرانی مقاماتوسره دافغانستان په حالاتو خبری وکړی پدی مشرانو کی حضرت صبغت الله مجددی ، استاد برهان الدین ربانی ، مولوی محمد نبی « محمدی » اوپیرسیداحمد ګیلانی زوی حامد ګیلانی شامل دی .ویل شوی دی پخپله پیر سیداحمدګیلانی چی اوس په قطرکی دی له دی مشرانو سره به یوځای شی .

درپوټ مطابق دغه مشران تهران ته دیو لوړرتبه پاکستانی هیئت له رسیدونه وړاندی ورغلی دی اودپاکستانی هیئت مشری به ددی هیواد دبهاندنیو چارو وزارت لوی سکرتر اکرم ذکی په غاړه ولری.

سرمقاله

پیروزیهـای جدید جهـادی مژده پیروزی کامل جهاد

با فتح ظفرمند خوست توسط مجاهدین پر افتخار مان که در نتیجه عملیات مشترك ومتحدانه بدست امد ،تحرك وبیداری بیشتری رادرتمام جبهات جهادی پدید اورده ودرمبارزه علیه فروخته شده گان واجیران روس روح ونفس تازه یی دمیدن گرفت ، ازهمین سبب امیدهای خفته هموطنان مسلمان ما ازیاس وناامیدی به حقیقت نزدیکتر شده می رود .

بعد از فتح خوست که سنگر مستحکم وشکست ناپذیر !! رژیم مزدور کابل محسوب می گردید ودراثر ان ضربه کاری ومحکمی برپیکر رژیم در حال سقوط کابل وارد امد ، درسراسر کشور پیروزی های زیادی نصیب مجاهدین شده است که بر علاوه شهرها ومحلات قبلی یکتعداد قریه جات وشهرهای مهم دیگری نیز ازاشغال وتسلط نوکران روس ازاد گردید ،

درصفحه ۸

دربلخ سه پوسته نظم خاص رژیم فتح وقوماندان ملیشه هلاك شد

بلخ ،میدیا :

یك منبع جهادی درپشاور به (میدیا) گزارش داد ، مجاهدین به روز ۲۲ ثور با عملیات سریع برپوسته های رژیم ملحد مستقر در منطقه شهرك درده کلیومتری شمال شهر مزارشریف ، مرکز ولایت بلخ سه پوسته (نظم خاص) رژیم را فتح وعبدالطیف قوماندان پوسته های ودوم برید من محمد اصف معاون وی را هلاك وهشت نفر دیگر ازملیشه ها را زخمی نمودند .

گزارش می افزاید که درنتیجه این برخورد هشت میل کلاشینکوف ، سه میل سلاح ثقیله ومقادیر زیادی مهمات ومواد خوراکی به غنیمت گرفته شد .

منبع در گزارش می افزایدپوسته مهم سفچه درنزدیکی تنگی چشمه شفا طی عملیات اخیر باوارد اوردن خسارات مالی زیاد بر قوای کمونست ها بدست مجاهدین فتح گردیده است.

افغانستان د ښمنه عناصر

په دریم مخ

زموږ یواځینی بدبختي پدي کيږده چې جهادي تنظیمونه پخپلومینځوکي سره متحد ندي اوتریوی واحدی قوماندی لاندی نظامي اوسیاسي فعالیت نلري

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتاسيس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دقوماندانانو شورا هغه کوي چې په هيواد کې يوه متحده اوسالمه اداره جوړه کړی شي

> په اوسني وخت کې دازادو انتخاباتو لپاره شرايط مساعد ندي اوبايد دقضيې دحل لپاره يوداسي شورا جوړه شي چې په هغې کې جهادي قوماندانان، دسياسي تنظيمونو نمايندګان، علما، روشنفکران، نامتو او منور ملي اواجتماعي شخصيتونه، دقومونو اوقبيلو مشران سره راټول شي اوله همدې شورا څخه پارلمان اونوی حکومت جوړشي.

محترم الحاج جلال الدين حقانی له يو شمير پيلوټانو سره دخپل کار په دفتر کې وکتل اودهغوی سره يې دقوماندانانو دشورا دوظايفو اودخوست له فتحې وروسته دروانو انکشافاتو اوسياسی نظامی وضعی په هکله خبری وکړی .

محترم حقانی صاحب دخپلی وينا په يوه برخه کې وويل دکابل مزدور رژيم خپلی وروستی ورځی شپی تيروی اونور ددی توان نلری چی دمجاهدينو دحملو په مقابل کی مقاومت وکړی خو زموږ يواځنی بدبختی پدې کې ده چی جهادی تنظيمونه پخپلو مينځو کې سره متحد ندي اوتريوی واحدی قوماندی لاندی نظامی سياسی فعاليت نلری چې داکار درژيم ددوام اساسی علت بللی شی .

خودخدای (ج) په فضل اومرحمت دقوماندانانو شورا ترډيره حده پدې باندی بريالی شوی ده چې يو زيات شمير تکړه قوماندانان دافغانستان دمختلفو سيمو څخه چې دټولو جهادی تنظيمونو نماينده ګی لری سره راټول او متهد کړی ترڅو نظامی فعاليتونه هم اهنګ او تريوّ قوماندی لاندی راولی چې دخوست دښار تاريخی فتحه دهمدی واحدی قوماندی او واحد عمل نتيجه ده .

حقانی صاحب زياته کړه : زموږ ځوريدلی اومجاهد ولس چی دروسانو په مقابل کیُ دُ لس کاله په تش لاس جنګيدلی دی اوهغوی يی له شرميدلی ماتی سره مخامخ کړل خو دتنظيمی اختلافاتو په اساس زموږ مجاهد ملت ته سخت تاوان ورسيدلی اودافغانانو مقدس جهاد چی دکفر او الحاد په مقابل کې يی پيل کړی هم په سياسی اوهم په نظامی ډګر کی له يو شمير مشکلاتوسره مخامخ کړ.

وروسته محترم حقانی صاحب دقوماندانانو دشورا اهداف او وروستی وظايف چی شورابه يی سرته رسوی يوپه يو په ګوته کړل او ويی ويل دقوماندانانو دشورا لومړنی وظيفه داده چی دافغانستان په ټولو سيمو کی چی دمجاهدينو په واك کی دی اويا په نژدی وخت کی فتحه کيږی بايد دټولو مجاهدينو ترمنځ اتحاد او يووالی راشی اودهغوی ترمنځ خپل منځی اختلافات يا تنظيمی اختلافات قومی او منطقوی اختلافات له منځه يوړل شی ، او يوه سالمه اداره رامنځته شی چی خوشبختانه دقوماندانانو شورا تريوه زياته حده پوری پدی کاربريالی شوی ده .

دقوماندانانو شورا بايد په ټول قوت اوتوان سره زيارويباسی چی دافغانستان په ګوټ ګوټ کی هم په نظامی اوهم په سياسی ډګر کی لوی بريالیتوبونه ترلاسه کړی .

محترم حقانی صاحب دافغانستان دسياسی حالاتو په هکله وويل : په اوسنی وخت کی دازادو انتخاباتو لپاره شرايط مساعد ندی اوبايد دقضيی دحل لپاره يوداسی شورا جوړه شی چی په هغوی کی جهادی قوماندانان دسياسی تنظيمونو نمايندګان علما روشنفکران نامتو او منور ملی اواجتماعی شخصيتونه دقومونو اوقبيلو مشران سره راټول شی اوله همدی شورا څخه پارلمان اونوی حکومت جوړشی چی دهيواد چاری په لاس کی واخلی ترڅو زموږ ګران وطن ازاد شی اودازادو انتخاباتو لپاره لومړی سوله امنيت تامين شی اووروسته دی ازاد انتخابات سرته ورسول شی .

بشپړبرې دهراړخيز اتحاد په رڼا کې

په سياسی سطحه له ډيری مودی راهيسی زموږ برميال جهاد له يوی ستری خلاسره مخامخ دی ، دروسی پوځونو له وتلو سره قيادتونو ونشواى کولی په يوه داسی واحده اداره توافق وکړی چی دهغی له اړخه له يوی خوا په نړيواله اوبين المللی سويه اوله بلی خوا دملت دټولو اړخونو اعتماد او اعتبار ترلاسه کړی .

همدغه سياسی رکود ؤ چی ترډيره يی په پوځی برخه کی هم دمجاهدينو ځواك اومقاومت ته صدمه ورسوله.

که څه هم دهيواد په دننه کی جنګيالی مجاهدين له دښمن سره په مخامخ جګړه کی له غوره ابتکاراتواو پرمختګونو څخه برخمن شول خوداهم يو واقعيت دی چی ددغو نوښتونو اوپرمختګونو په مخه کی دقيادتونو اختلاف اولدی پلوه راولاړه شوی سياسی خلاڈيوه عمده مشکل په توګه دوروستی او غوڅ بری په مخه کی دخنډ او ځند ديوالونه درولی دی .

دخدای په فضل دخوست په فتحه کيدو سره لکه چی له سره جهاد هنګامه توده شوی وی په نړيواله سويه دمقاومت په رابطه يولړنويو انکشافاتواو بدلونونو خپل جهت وټاکه .

دهيواد په داخل کی هم دفتحو اوبرياليتوبونو بابونه پرانستل شول اوپه ګوټ ګوټ دبريدونو اوغورځنګونو څپی پراخی اوتوپانی شوی دماتی خوړلی دښمن پر پوځی تاسيساتو دقهرمانو مجاهدينو دبرياليو عملياتو دايری پراخه اوپياوړی شوی اودغه ورنړيوال يوځل بيا دی ته متوجه اومتقاعد شول چی مجاهدين په پوځی لحاظ دومره غښتلی اوځواکمن دی چی دخپلی فتحی اوبری مخه پرانستی وساتی .

دمقاومت په سطحه چی داختلاف په اړه دکومی نيمګړتياياودونه کيږی هغه هم دقيادتونو کشاله ګڼلی شی ،پدی رابطه دالحاج مولوی جلال الدين حقانی هغه خبره چی ديوه خبريال دپوښتنی په ځواب کی يی کړی دلته يادوو چی دمجاهدينو په منځ کی اختلاف نشته که اختلاف وی هغه به دسياسی ليډرانواو قيادتونو په منځ کی وی چی داخبره دخوست يو مخيزو متحدو او برياليو عملياتونوره هم ښه ثابته کړه .

دسياسی ليډرانو همدغه اختلاف دی چی دمجاهدينو ډيری ستری کارنامی فتحی اوقهرمانی يی دسياسی اوګوندی اهدافو په ګردونو کی ونغښتی حتی له هغو ډيرو سترو فتوحاتو يی هم دانقلاب لپاره دهغی دشوکت اوعظمت په اندازه استفاده ونشوی کولی .

له همدی ځايه ده چی ويلی شو چی يوه قوی سياسی اداره کولی شی په پوځی برخه کی دمجاهدينو دقربانيو ، قهرمانيو او فتوحاتو ځواك اوقوت په بين المللی سطحه تمثيل اومنعکس کړی .

په اووم مخ کې

ولسوالي خواجه غار مركز ولايت تخار بدست مجاهدين فتح شد

تخار ، ميديا :

اژانس خبری ميديا به نقل از پيام مخابروی احمد شاه مسعود رئيس شورای نظار جمعيت اسلامی افغانستان خبر می دهد كه ولسوالی خواجه غاروفرقه ٥٥ رژيم كابل طی عمليات مشترك مجاهدين فتح شد .

راپورمی افزايد طی حمله اول كه به همدستی مجاهدين حركت انقلاب اسلامی واتحاد اسلامی بالای ولسوالی خواجه غار كه رژيم كابل انجارا بحيث مركز ولايت تخار اعلام كرده بود با سقوط غند ٥٤٣ مربوط فرقه ٥٥ كه از طرف افراد سازمان كمونستی «سازا» اداره می شد روز ٢٣ ثور بدست مجاهدين فتح گرديد .

همچنان به دنبال اين پيروزی چندين غند وكندك مليشه های بشمول غندمشهور مليشه بنام احمد بدست مجاهدين افتاد وتلاش برای تسخير فرقه ٥٥ ادامه داشت .

راپور حاكيست جنگ بين مجاهدين وقوای رژيم درسرك كندز ، بغلان كشيده شده ومجاهدين سعی نمودند ، سرك مذكور را كه حيثيت يگانه راه اكمالاتی رژيم را دارد ، مسدود نمايند .

همچنان اطلاعاتی كه از ولايت بلخ بدست رسيده مشعراست كه درحال حاضر عمليات مجاهدين درمنطقه چشمه شفا كه درتنگی بين ولسوالی شولگره وشهر مزار شريف مركز ولايت بلخ قراردارد ، عملا اغاز وتلاش مجاهدين برای تصرف مناطق مذكور ادامه دارد .

به همين ترتيب به اساس پيام دوم مخابروی احمد شاه مسعود خبرداده شد كه فرقه ٥٥ درمركز ولسوالی خواجه غار كه گروپ كمونستی سازا درانجا مستقر بود صبح روز ٢٥ ثور كاملا فتح گرديد واين ولسوالی اكنون بصورت كلی بدست مجاهدين افتاده است .

طبق راپور مركز فرقه سازا يگانه پايگاه مقاومت نيروهای رژيم در ٥٠ كيلو متری سرحد روسيه بود كه برعلاوه قوای مسلح با استقرار ٥٠٠٠ مليشه مجهز باسلاح های ثقيل وخفيف از مراكز عمده نظامی محسوب ميشد .

راپور می افزايد ٥٠٠٠ تن ازمليشه هاوافراد مسلح فرقه مذكور به اسارت مجاهدين درامده اند اين فرقه كه بدنبال اعلان ولسوالی خواجه غار بحيث مركز ولايت تخار يكسال پيش از سوی رژيم كابل تشكيل گرديده بودبا موقعيت برتپه بلندی دركنار دريای كوكچه برساير مناطق اطراف ولسوالی مذكور حاكميت كامل داشت .

طبق راپور تسخير فرقه ٥٥ گروپ سازا اكنون راه رابرای سقوط ولسوالی های ينگی قلعه ورستاق كه درحال حاضر تحت ضربات كوبنده مجاهدين قرار دارند باز گرديده است .

طبق اطلاع ديگر مجاهدين ٢٥ پوسته كمربند امنيتی ولسوالی ينگی قلعه را دراين عمليات فتح نموده وبرای فتح غوند مليشه حكيم صديقی رژيم كابل جنگ ادامه دارد .

اداره جهاد هنداره در حاليكه فتح ولسوالی خواجه غار ومركز فرقه ٥٥ رژيم مزدور رابه مجاهدين سربكف ان ديار تبريك عرض ميدارد ازخداوند (ج) خواهان پيروزی های هرچه بيشتر وسريعتر مجاهدين سربكف مادر همه نقاط كشوراست .

افغانستان د ښمنه عناصر

محترم مولوي محمد یونس «خالص»

تاسو فکر مه کوئ چې زه به دځینو نورو په څیر دافغانستان دښمنان یوازې هغه څوك معرفي کوم چې هغوی داسلامي عالم دښمنان دي او نه غواړي بشریت آزادژوند وکړي اوددوی داستعمار جغ یې په څټ نه وي ایښی بلکه زه افغانستان دښمنه عناصر هغه هم بولم چې ددغه هیواد مسلمان ملت پخپلو ذاتي آني گټو پلوري اونه پرېږدي چې ددې ملت دهوساینې لپاره ددې ملت بادرده وگړي قدمونه پورته کړي .

دمثال په ډول په افغانستان کې داسلامي دین اوپښتني غیرت پر ضد امان الله خان قدم اوچت کړ اوویې غوښتل دغه مسلمان ملت په فکري توگه دغرب اوشرق په لمن کې ورواچوي اولکه نن چې په ترکیه کې کومي اسلامي ضد نظریې جریان لري افغانستان هم خپل فکري اوعقیدوي استقلال له لاسه ورکړي او دنورو په ډول وناځي خود افغانستان مسلمان ملت راولاړ شو قرباني یې ورکړه او امان الله خان یې ترمرگه پوري دافغانستان له خاوري بې برخي کړ.

راغونډ کړي او یوصالح زعامت جوړ کړي دځینو مفسدو مشاورینو په لمسون یې دخپلې پاچاهۍ اعلان وکړ او خوااوشا خلکویې په ملت کې داسې فجائعو ته لاس واچاوه چې خلك یې په اصطلاح تر سپېږمو راوستل ترڅوغربي استعماروکولای شول دپائنده کهول (نادري کورنۍ) ورباندې ومنې او بالاخره هغوی وکولای شول ددې ملت دبادرده خلکو شهیدان او هلې ځلې چې دامان الله پر ضد یې کړي وې دخاورو سره خاورې کړي او داسلامي حجاب پر ضد سفاك داؤد دبرچې څخه کارواخلی ، نوځکه موږ په زغرده ویلای شو چې ظاهرشاه اودهغه هواخواهان افغانستان دښمنه هغه عناصر دي چې دسلطنت په اوږدو کې یې نه په افغانستان کې داسې دیني خدمتونه ترسره کړل چې نن سبا په کیمپونو کې دنصرانیت پلویانو قدم نه شوای ایښودلای اونه خودالحادي فکر پلویان پدې ملت کښې پیداشوي وای

یې بالاخره دفحاشۍ اډې وگرځولې اونه یې په افغانستان کې چې دزراعت اومالداري وطن دی، غرونه یې په معادنو مالامال دي ،سیندونه یې دبرق دتولید اودصنعت لپاره مهیادي کوم داسې خدمت وکړ چې دابې چاره ملت دنورو دمزدورۍ څخه خلاص شي په همدې ترتیب خپل فوځ ته یې داسې ناوړه تربیه ورکړه چې بالاخره یې خپل کوررنگ کړ نه یوازې داچې ملت یې دخاورو سره خاورې کړ بلکه دوی ته یې هم تاوورسیده. دغو افغانستان دښمنه عناصرو داسې افغانستان دښمنه عناصر تربیه کړل او کاریې په لاس ورکړ چې نن هم څوك دقلم په څوکه او څوك دبرچې په څوکه لگیادي ددې ملت روح باسي تاسو به داسلام پر ضد او دشرعي حجاب په خلاف دهغوی مرکې اوریدلې وي او ددې پر ځای چې ددې ملت په وینو وژاړي اوترخوايي کښیني دمجاهد ملت په نوم دشرابو جامونه ترلاسه کوي اودغرب او

دروسي مزدورانو په مرگ ژوبله ویرونه کوي اومجاهدین وحشیان بولي خودمسلمانانو په یونیم ملیون لازیاتو شهیدانو باندې یې کم ترکمه روسانو ته وحشیان هم نه دي ویلي اولاتاندوهې چې دروسانو دمزدورانو سره یوگډ حکومت هم جوړ شي تاسو که خارجي اخبارونه ولټوئ اودامریکا اوبي بي سي سره

دافغانستان زعامت که یو واقعي افغانستاني مسلمان ته ونه سپارل شي باور لرم که څه هم داسلام په نوم دغه په پردیو پلورلي اوپلورونکي عناصر قدرت ترلاسه کړي په مختلفو دسیسو به وخت په وخت هغه توریالي ځوانان چې دجهاد سنگرونه یې په وینو ساتلي اوهغه دیني عالمان اومشایخ چې په اسلامي روحیه یې داملت راپاڅولي دي وځپي اودایندہ لپاره به دجهاد نوم اونښه ورکه کړي

مرکې موتعقیب کړي وي پوهیدلې به وي چې دافغانستان دسیاستمدارانو او پخوانیو حکمدارانوزیاته برخه هغه خلك دي چې نه غواړي په افغانستان کې یوواقعي اسلامي حکومت جوړ شي اویوداسې حکومت راشي چې دمجاهدینو اومهاجرینو شهیدانو او معیوبینو ،کونډو او یتیمانو پالنې څخه برسیره پدې ملت کې اسلامي روحیه چې دجهاد اساس بللی شي هومره تقویه کړي چې نه خوبیا هیڅوك هم دیخوا ته دتعرض سترگې برندې کړي اونه خو په اسلامي عالم باندې دتیرې او تجاوز پلانونه

جوړکړي اودطبیعي منابعو څخه هومره استفاده وکړي چې داملت به نوروته داحتیاج څخه بې غمه کړي هو ! دوی باور لري که افغانستان واقعاً دیوه افغانستاني اسلامي زعامت خاوند شي نه یواځې داچې ددوی دعیاشۍ اوفحاشۍ مخه به ونیول شي بلکه لا دمحاکمې میدان ته به هم راښکودل شي اومجازاتو نه به وگوري .

دافغانستان دښمنه عناصرو په لړ کې هغه خلك هم یادولای شو چې لگیا دي په مختلفو لارو دملحد او مزدور حکومت سره مرستې کوي کله یې په دسترخوان ناست وي معاشونه یې خوري کله ورسره ارتباط ساتي کله ورته جاسوسي کوي اوکله دتجارت په نوم دهغه بین المللي اعتبار ساتي ، کله یې تذکره اوپاسپورت اخلي

اوکله ورته تبلیغات کوي اودغه مفسد عناصر هم ددې ملت داسې افراد بولي چې گوندې ددې ملت په سرنوشت کې برخه اخستې شي. هغه څوك چې دمجاهدینو په وینو تجارت کوي اودیته

حاضریږي چې دسیاسي حل په نوم اوپه دې پلمه چې گوندې دوی مسلمانان شویدي دوی سره گډ حکومت جوړکړي اویا دیوه بې طرفه حکومت لاندې شریك قوت جوړکړي هغه

افغانستان دښمنه عناصر دي چې نه یواځې داملت له لاسه ورکوي بلکه خپله پخپلو ځانولوېي هم کوي ځکه نو دافغانستان مجاهدین او واقعي مهاجرین باید وپوهیږي چې تول افغانان لکه چې گرد سره مسلمانان

نه دي بلکه ملحدان اوددین دښمن عناصر هم پکې شته چې موږ نن سبا ورسره لاس په گریوان یو همدغه راز گرد سره افغانستاني هم نه دي لکه ځینې هغه دي چې داهیواد په پردیو پلوري اونه غواړي واقعي هیواد وال دښې ورځې څښتنان شي دافغانستان زعامت که یو واقعي افغانستاني مسلمان ته ونه سپارل شي باور لرم که څه هم داسلام په نوم دغه په پردیو پلورلي اوپلورونکي عناصر قدرت ترلاسه کړي په مختلفو دسیسو به وخت په وخت هغه توریالي ځوانان چې دجهاد سنگرونه یې په وینو ساتلي اوهغه دیني عالمان اومشایخ چې په اسلامي روحیه یې داملت راپاڅولي دي وځپي اودایندہ لپاره به دجهاد نوم اونښه ورکه کړي دامسلمان ملت باید وپوهیږي چې هرمجاهد یا قوماندان یاقائد جمهور رئیس یا وزیر نشي جوړیدای بلکه بالاخره به قدرت څه محدود خلك ترلاسه کوي نوله دې کبله پخپلومنځو کې سره لاس ورکړي تولې هغه هلې ځلې

چې نن سبا دبین المللي استعمار لخوا مستقیما پدې ملت کې صورت نیسي اویا دکوم قومي مشر ، تنظیمي مشر اویل بل چاپه واسطه رواني دي اوهره ورځ نوې نوې طرحې ددې لپاره رامنځته کیږي چې داملت اغفال شي اودشرق اوغرب مزدوران یوځلې بیاقدرت ترلاسه کړي ،شنډې کړي .

دتیرو خلکوحکومت هم تقریبا پنځوس کاله تجربه شو

او ومو لیدل چې نتیجه یې څه وه اوداوسني رژیم مزدوران مو هم ولیدل چې دوینو سیلابونه یې روان کړل اولا لگیا دي ددې ملت زخمونه تازه کوي ښه به داوي چې ددې ملت سپیڅلې مسلمانان نور دغه شانې افغانستان دښمنه عناصرو ته موقع ورنه کړي پخپله لاس اوپښې ووهي اودافغانستان واقعي استقلال اواسلامي هویت وساتي وما ذلك علی الله العزیز

دافغانستان دښمنه عناصروپه لړکې هغه خلك هم یادولای شو چې لگیا دي په مختلفو لارو دملحداو مزدور حکومت سره مرستې کوي کله یې په دسترخوان ناست وي معاشونه یې خوري کله ورسره ارتباط ساتي کله ورته جاسوسي کوي اوکله دتجارت په نوم دهغه بین المللي اعتبار ساتي ، کله یې تذکره اوپاسپورت اخلي اوکله ورته تبلیغات کوي

متاسفانه چې هغه وخت ددې پرځای چې حبیب الله دسقاو زوی ددې ملت مدبرعلما ، سپین ږیري او توریالي

بلکه تاندیې وواهه چې ددې ملت بچیان دمعارف په سطحه هومره عیاش او فحاش کړي چې رسمي اداري

امریکا دغلامانو په څیر هلته ژوند کوي.

تاسو به اوریدلي وي چې دخلقي اوپرچمي یعني

تره کي وکارمل نوکران وفادار روسها بودند

تره کی درشیوه حکمرانی پیروستالین مستبد بوده وچنان فکر میکرد که میتواند با بندوزنجیر کشیدن وکشتار مردم سلطه جابرانه اش را برملت افغان بقبولاند .

این مطلب رایك تن از افغانان مسن که شناخت دقیق بانورمحمد تره کی وببرك کارمل این نوکران سابقه دار روسها داشت طی مصاحبه بارادیو صدای امریکا افشا نموده است .

وی علاوه داشت تره کی وامین از اغاز کودتای ۷ ثور ۱۳۵۷ تاششم ماه جدی ۱۳۵۸ بشمول موسی شفیق ونوراحمد اعتمادی صدراعظمان سابق یازده هزار تن ازروحانیون ، علمای متبحر ، استادان پوهنتون ، معلمان ، انجنیران ، داکتران وغیره افغانها رادرقتلگاه پلچرخی تیر باران ویا زنده بگور نمود .

موصوف دررابطه به ببرك کارمل گفت که وی نیز انسان خود خواه ومستبد ونوکروفادار روسهابود که باتانك روسها بحیث شاه شجاع دوم درافغانستان برقدرت دست یافت وافغانستان رابیش از پیش به روسها فروخت .

وی افزود ، کارمل ازگذشته های دور با ینطرف رسما عضو کی ، جی ، بی دستگاه جاسوسی روسها

بوده است ، این حقیقت رایك تن از افرادعالیرتبه کی ، جی ، بی که درسال ۱۹۸۲ به انگلستان پناهنده شد افشا نموده است .

موصوف علاوه داشت تره کی وکارمل اله دست روسها بوده و دارای کدام حیثیت ملی نبودند مسوولیت اوضاع واحوال کنونی کشور ومسوولیت همه بدبختی های که با کودتای ننگین ثور برملت ماوارد امد بدوش روسها ونوکران افغانی انها است .

تياري په تيريدودي تورتمونه به نورنه وي
هيواده ستاپه غيږکې سره اورونه به نورنه وي
غليمه ستادظلم جام به خاورو کې نسکورشي
له ويرې اووحشته ډك وختونه به نور نه وي

موږ ورسره څه وکړل؟

ننګيار

زړه مې غوښتل څه وليکم ، هسې څه چې په ليکلو ارځی اودلوستلو قابل وی يادونه ، خاطرې ډيرې وی ، دردونه اورنځونه هم کم نه وو ، زما دخلکو دماحول او

دوطن ولې هغه څه چې زه يې په ليکلو مجبور ولم داسلام دهغو شهيدانو نازولی خو له سترګو لويدلی ارمانونه وو چې ورځ تر ورځی پرې دبې تفاوتۍ خاورې امباريږي اوکرار، کرار له ياده لويږي اوپناه کيږي .

سترګو ته مې دهغوی يوه ، يوه څيره راغله خو داسې لکه چې خوابدي وی زموږ دجفاله امله ، زموږ دبې غمۍ اوبې تفاوتۍ له امله اوزموږ دخودغرضۍ او ... له امله.رښتيا ، دهغو شهيدانو ارمانونه کومو چې داسلام دبقا لپاره دحق اوعدالت دخوندی کولو او دخپل اسلامی کور« افغانستان» دازادی لپاره او په نړۍ کی دظلم ، تيری کفر اوشيطانی حرکتونو دمحو کولو لپاره خپلی ځوانۍ انسانی هوسونه او غوښتنې لکه دسپيلنې لوګی کړی اوبر موږ يې دخپل خوځښت سپيڅلی اغيزمن اوبريالی دوام تاکيد دخپلو نازولو يتيمانو دسپيرو اوحيرانو څيرو په بڼه پريښود .

موږ ته يې دخلاصون برې اوبرکت لاروښودله اوپه خپله پرې مخکې شول ، سختی اوسترېږي يې دوی ووهلې اواسانه يې موږ ته پريښودې نه يې په چاحسان اچول خوښ کړل اونه يې په چا پاسلل ، نه يې له چابدله وغوښته اونه يې دراتلونکی دګټو اوافتخاراتو خيال .

بس په دايوه سپيڅلی هيله چې دخپل واحد اولاشريکه خدای (ج) رضايي نصيب شی په مخ لاړل او شاته يې ونه کتل ، نه يې دپاتی کونډی اونه يې دپاتی يتيمانو غم وخوړاونه يې داسې واړه خنډونه دخپل لوړارمان په لار کې دراګرځيدو څه چې دځنډيدو سبب شول .

دنړۍ دستر شيطانی ځواک «روس » اودهغوی دپليتی اوانسان دښمنی نظريې « کمونيزم » نه ماتيدونکی طلسم يې مات او داسې شرمنده کړ چې نن خپله « کمونستان » هم پرې شرميږي اوهم ترې « بيزار » خطونه اخلی .

هغوی دخپلو پاکو وينو په سيلاب داوسپنې اوپولادو غرونه داسې يو وړل لکه خونړی سيلاب چې دخاورو ډيرۍ په مخه کړی .

خو موږ ورسره څه وکړل ؟ اوڅه کوو ؟!

ايا زموږهيلې ،ارمانونه اوارزوګانې هم دهماغو شهيدانو دی چې دکومو له برکته نن سبا زموږ دغه راحتونه، سوکالی اوعيشونه وړيا نصيب شوی داسې چې اوس يې هريو دخپل هنر ، پوهې ، زور اوچالاکی حاصل ګڼو !

لنډۍ

موري لنډۍ ټوپك مي راکړه
په ګرديز جنګ دی زه خپل ځان قربانومه
دشهيد سترګي نه پټيږي
غواړي دخپلو اقرباوو ديدنونه
دمجاهد له سترګو جارشم
دروس په زړه کې يې برچې منډلي دينه

تکل

دبې دينو انجام

سيد شهريار

دده همدی خبرو ،حرکاتو ، کړنو او ارادو دده په ناپوهۍ اوکم عقلۍ دلالت کاوه دخلقيانو اوپرچميانو په تشو ناروسورو غوليدلی ؤ دی دومره دملحدينو ددام په لومو کی کلك نښتی ؤچی دخلاصيدو هيڅ شان يې نه ؤ .

زما نصيحت ورباندی هيڅ تاثيرنه کاوه زما نصيحت يې په ټوکوټکالو اړاوه او زما خبری يې دزړی زمانی اودزړو اذهانو يووهم اوګمان ګاڼه .

خوما به څه کړی وای زما خو اولاد ؤ په بده مې نه پيروزکيده په بده يې روا دار نه وم دتباهۍ اوبربادی کندی ته دورغورځيدونه مې په مغزو کی دده دساتنی فکر ؤ ما پدغه کړو وړو لارو کی په کومو چې دی ور روان ؤ دده اوله اواخره په خطر کی ليده مانه غوښتل چې ډ بيځايه ولاړ شۍ بې اسلامه اوبې دينه ولاړ شۍ دمسلمانانو لپاره دخپل قوم لپاره اوبيا خاص زما لپاره دشرم اوعارنښه وګرځی داسې نه شي چې زه دده دځوی ولی څخه توبه ګارشم!!!

ماورته

څو څو کرته ويلی ؤ چې دبې دينو انجام ښه نه وی خوافسوس چې زما يو کوښښ هم سرونه نيو ، زما کوښښونه زمامنصوبی زما نصيحتونه اوزما زاری بې ځايه ولاړی او زما ګردار مانونه دخاورو سره خاوری شول ما په ده باندی دسبق ويلو په وخت په ځان څومره سختۍ تيری کړی څومره تکليفونه مې وګالل دځانانو اوملګانو څومره ناخوالی اونادودی مې تيری کړی اوپخپل سرمې تيری کړی! ترڅو له ده نه يوپوه سړی جوړشی دوطن اومسلمانانو پکار راشی خدمت يې وکړی اوترخپله وسه دغريبانانو اونادارو سره لاس واړوی ځکه چې زه غريب وم غريبی راباندی تيره شوی وه او دغريب له بدی ورځی نه ډير ښه خبروم خوده زما په دغو ټولو ارمانونواوارزوګانوخاوری واړولی ده زما په غريبۍ اوبې وسۍ پوری ټوکی اومسخری وکړی دی چې رالوی شو نوله مانه يې کرکه وکړه ده زما دکړنو اوحرکاتو پوری خنداګانی وکړی دی چې ما دکوم شی دحفاظت ، ښکلا اوعزت لپاره دی ځای ته رسولی ؤ ده دهغو شيانو په تباهۍ بدرنګۍ بې عزتۍ اوبربادۍ لاس پوری کړ ده داسلام دپتنګانو اودحقی لاری دسپاهيانو پرځای دسرو کافرو ملګرتيا اوملاتړ وکړ ده دخپلو پرځای دپرديو سره لاس يوکړده داسلام دسپيڅلی لاری پرځای دبې دينۍ ناولی لاررونيوله لږې ورځې مخکی چې دی دشوروی نه کابل اودکابل نه کورته راغی نو دقيامت اواخرت له ورځو نه يې په ډاګه انکار وکړ ماته يې نه يوړه اونه راوړه !

اغاصيب ! پريدۍ دادژوند

اومرګ بحثونه هيڅ نشته دايو وهم دی نړيوال کوم ځای ته ورسيدل اوکوم مقام يې تر لاسه کړ؟ اوموږ کم عقل افغانان چيرته په تيارو پسې روان يو زه چې دی وطن ته راشم نوزړه مې ترخولی راشی بله خبره نشته په غير داسلام ، دين ،اخرت ، قيامت اوعبادت نه اخربله کومه خبره هم شته اوکه نه کومه دترقۍ اوخوشحالۍ لاره هم پيژنۍ اوکه نه ! دلته په دينی غټو غټو کتابونو خپل ماغزه اوبه کولای شی خوپه مترقی سوسياليستی کتابونو کی ژبه قدر ته هم نشی ښوزولای اخرترڅو پوری به په دی تيارو کی پراته ياست همدغه کمونستی انقلاب چې زموږ هيواد وال دتوروتيارو څخه راونه باسی بل يوطاقت يې هم نه شي راويستلای څه شوروی اتحاد دی چې ... دزمرك دغه اوږده بحث له مانه يو دوه خطا کړه مادده مستقبل په خطر کی وليد مابه نوده ته څه ويلی وای زما نصيحتونو په ده باندی هغه وخت تاثير نه وکړی کوم وخت چې يوعادی سړی ؤ .

اوس نوچی دده په شاپسی څلور پنځه عسکر ګرځيدل څه به يې پری کړی وای!ما فقط همدومره ورته وويل چې ورك شه بيا دی خوا راونه ګوری نه مې زوی يې اونه دی پلار يم ماته په نشت وشميرلی سترګی دی پناه کړه او زما دکوره ووځه که وسه مې درباندی کيدی نو ژوندی به مې نه وای پريښی ، نواوس تاسی ته هم وايم چې پورته کړۍ دده داناولی جسد زماله مخی يې — پناه کړۍ چې ژوندی ؤنو له تاسی سره ؤ اوس چې يې سترګی پټې شوی نو په ماپسې موراوړ اخرده نه خوهم لږه پوښتنه وکړۍ چې دده زړه چيری خو شحاليږي ؟

نه زه دی پيژنم اونه دی ما پيژنی زه اودی له يوه بل سره نه جوړيږو ځکه زما اودده په اهدافو اومرامونو کی دځمکی اواسمان فرق دی ... دی يوغټ سړی اوزه يو بې وسه پلار يم !

دمجاهد سندره

«سيف مهمند»

زه يم شاهين دجګو غرونو دافغان بچی يم
زما سينه کښې قران پروت دمسلمان بچی يم
زه دمحمود غزنوی اوابدالی وينه يم
هم دغښتلی ستر نيکه ميرويس خان بچی يم
ماته قيصی مې مور ځانګو کې دنيکو کړي دي
ماته يې ډير دننګ په ژبه الاهو کړي دي
زه له ازله خدای (ج) محکم لکه فولاد پيدايم
دغلامۍ له ځنځيرونو يې آزاد پيدا يم
دکفر هری تاريکۍ ته دسبا زيری يم
هم ورکيدو ته دتيارو يې دالحاد پيدايم
ددين شغلو خنجرپه لاس کې لکه لمرولاړيم
زه دباطل هريو طوفان ته لکه غرولاړيم
زما تاريخ ټول دغيرت دکارنامو نه ډك دی
زماتاريخ دښو سپيڅلو ولولو نه ډك دی
چې داسلام په نامه سرومال شيندي په مينه
دهرافغان زړګی له دارنګې جذبونه ډك دی
موږپه اسلام باندې دسرښندنو وياړ غواړو
دزوروړو يرغلګرو کورلتاړ غواړو
دوخت داسور سيلاب زموږ مخه نيولی نشي
په ماتې سردي بيرته ښتي لارموندلی نشي
دسره ښامار لکۍ ده پرې بدن زخمي زخمي دی
دمجاهدګوزارونو تاب لرلی نشي
موږ په قدم قدم دښمن لره بندر نيولی
په هره تېره هريو غره کې مو سنګر نيولی
ددوی دثور انقلاب !!! به کړو په وينو ورسور
ددې جهانه ورته جوړ مو دی ښه ګرم تنور
دوی که په سکڼو طيارو باندې غره وي ځانته
زموږ ملګری دی نصرت په هرقدم دغفور (ج)
دثور سره کمبله نوره ټولول غواړو
افغانستان کښې داسلام حاکمول غواړو
يابه وطن کې موږ نظام دمصطفی راولو
په وچو شونډو به دهريتيم مسکا راولو
هريو مجنون ته داسلام اودوطن ملګرو !
دازادۍ جامې اغوستې شاه ليلی راولو
«سيفه» افغان خو په دې چاره کې نيمګړی نه دی
که داسې نه وي شهادت خوبيا چاړی نه دی

په افغانستان کې دکې، جي، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا، کام، خاد، واد - تشکیلات، فعالیتونه اوجنایات

نهمه برخه :

عبدالوکیل

په ۱۳۵۰ هـ ش کال کې دروزګار په نوم جریده کې دخلقیانو اوپرچمیانو یو شمیر لیکنی اوسیاسی مطالب خپریدل چې دهغی جملی څخه دنوموړو ډلو دوحدت مسله هم مطرح شوه خو دڅو هفتو تحریری سوالونو اوځوابونو څخه وروسته دپرچم ډلی خلق ډلی ته ولیکل چی راشی دمور ګوند ته راشی یعنی داچې په انشعاب کې دپرچم په ډله پسی دمرکزی کمیتی اکثریت غړی ولاړل (خلقیانو هم په نوموړی ادعا باندی تاکید کاوه او ویل یې چې موږ اکثریت ؤ) په راتلونکی بله ګڼه کې دخلق ډلی ورته ولیکل چی راشی دپلار ګوند ته راشی خو په هیڅ صورت سره یو ځای او واحد نه شول اما دا دکی، جی، بی زامن چی یوبل هم پلار نه لری په ۱۳۵٦ هـ ش کال کی دکی، جی، بی په یوه دستور او امر باندی په یوه ورځ کې بې له کوم پرابلم او مشکل څخه سره یو او واحد شول.

روسانو داود ته داسی وښودله چی که چیری دا سیاره زموږ دمدار څخه بې ځایه شی نو ورانیدل یې حتمی دي خو داود په هغه ښویه قوا او تدبیر نه درلود لکه څومره چې مغرور، بې پروا او تصور یې کاوه په دې وخت کې دداود په تګلاره کی دروس پر ضد رښتینی تغیرات رامنځ ته شوی ؤ او روسان هم په دی پوهیدل چی داود په کوم حالت کی قرار لری.

روسانو خپلو مزدورو ډلو خلق او پرچم ته دستور ورکړ چی که چیری داود پر تاسو تعرض اوحمله وکړی اویا پخپله داود بل څوك له منځه وړی نو سیاسی قدرت باید ستاسو (خلق اوپرچم ډلی) په لاس کې ونیسی اوکه داسی و نه شول نو تیار، هوښیار او حالاتو ته متوجه اوسی په دی مرحله کې کی، جی، بی وکولای شول داسی حادثی رامنځ ته کړی چی دداود توجه ورته راوګرځوی او ددی په عوض چی داود دوضعی او حالاتو دعمل ابتکار او کنترول په لاس کی واخلی پخپله دنباله رواودحوادثو په ګرداب کی یې غرق کړی.

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ کودتا څخه یوه هفته مخکې دمیر اکبر خیبر په نوم دمزدور ګوند دمرکزي کمیتې غړی چې دوحدت څخه پخوایی دپرچم په ډله پورې اړه درلوده دکی، جی، بی دطرحه شوي پلان په نتیجه کې ووژل شو.

روسان دخلق اوپرچم په مرکزی کمیتو کې له دووکسانو سره په پرابلم او مشکلاتو اخته ووداوه نفره امین اوخیبر ووامین په ظاهري ډول سره دروسانو مخالفت نه کاوه خو ترشایې چې څه خوښ ووهغه يې ترسره کول.له روسانوسره دامین ظاهري نرم برخورد روسان دې ته نه هڅول چې دامین په له منځه وړلو کې جدی او چټك عمل ترسره کړی خو خیبر هغه څوك ؤ چې دیوې خوایې تره کی، کارمل او دمرکزی کمیتې نورو غړو ته تدریس ورکاوه اوتهولو به استاد باله اودبلې خوا په سازماني چارو کې دروسانو دزیاتې مستقیمې مداخلې اودستور سره يې مخالفت کاوه اوروسانو په راتلونکی کې دده موجودیت دځان لپاره پرابلم او دسردرد باله .کله چې په ۱۳٤٦ هـ ش کال کې دخلق اوپرچم ډلې سره جداشوې خیبر په دې هڅه کې ؤ چې باید بیرته سره واحدې شي خوکله یې چه د۱۳۵٦ هـ ش کال دسرطان په میاشت کی دخلق اوپرچم دوحدت اویووالی په هکله دروسانو مداخله اومستقیم دستوورونه په خپلو سترګو ولیدل نو دخیبر او روسانو ترمنځ مخالفت خطرناك حالت غوره کړ (خیبر دکمونستي نظریاتو او روسانو ضد نه ؤ اما په خپلو کړو وړو کې یې دروسانو زیاتې مداخلې سره مخالفت کاوه یاپه بل عبارت دروسانو باوروړلوته تیارؤ خودبار دوزن په اندازه کې یې خپل نظر هم شرط باله).څرنګه چې روسان دداؤد رژیم په اخیرو کې دګډوډی دپیداکولو اوداسې حوادثو دمنځ ته راوستلو په لټه کې ووچې داؤد دخلق اوپرچم ډلوسره ټکراوله منځه یې یوسي نوروسانو دخیبر وژل ترټولو مناسب اوپرځای عمل وباله اودخیبر په وژلوسره یې په یوه غشی دوه ښکاره په لاس راوړل .

> دپرچم اوخلق ډلو دښځو سازمانونو دخیبر جسد له زرو مکرویانو څخه دپل خښتي جومانته پورې په داسي حالت کې بدرګه کړچي سرونه يي لوڅ اوميني ږوبونه يي اغوستي وو.

دیوې خوایې دخلق اوپرچم په ډلو کې دمستقیمې اوبې حده مداخلې مخالف شخص څخه خانونه بې غمه کړل اوله بلې اړخه یې دداؤد اوخلقیانو اوپرچمیانو ترمنځ دټکر کیدلو انګیزه رامنځ ته کړه .

خو روسانو اودخلق اوپرچم ډلوددغه قتل عاملین دافغانستان داخلی اوبین المللی ارتجاع وبلله دغه اعلان دخلق اوپرچم ډلولخوا هغه وخت خپورشو کله یې چې دنوموړی جسد خښاوه خو د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په ٦ نیټه دروسانولخوا عارف عالم یار (نوموړی دخلق په ډله پورې مربوط ؤاودروسانو دراتګ څخه پخوا دترانسپورت عمومی رئیس اوپه عین حال کې دکابل ښار دوروناحیو دګوندی منشی دندې په غاړه درلودې اومشر ورو یې صدیق عالمیار دپلان وزیر ؤ.دمحمد داود دقدرت په وخت کې دهغی غلا په واسطه چې په هغه کې نیول

په (۷)مخ کی

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

په افغانستان کې دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې :

په تیر پسې

فیض او غیرت وایی په روسی پوځ کی داسلامی سیمواکثره شامل پوځیان غواړی چی له مجاهدینو سره یو ځای شی خو دتیښتی هلی ځلی ډیری خطرناکی دی په دی خاطر چی که څوك دتیښتی په حال کی ونیول شی عادی سزایی مرګ وی، اوهم داچی روسان هغوی ته تبلیغات کوی او ورته وایی چی مجاهدین قاتلین دی وحشیان دی، هغوی خپل دښمنان په ډیرو بدو نامو یادوی فیض وایی که داسی وسایل او ذریعه وی چی دهغی په وسیله دهغو روسی پوځیانو له زړونو څخه دمجاهدینو په باب اندیښنه لری کړی شی اکثره به له مجاهدینو سره یو ځای شی یابه هم دمجاهدینو پرخلاف دجنګیدو څخه لاس واخلی او دزړه له تله به مجاهدینو سره مرستی ته چمتو شی (۱)

دفیض اوغیرت څخه وپوښتل شول

ژباړه :عوض الدین صدیقي

که مجاهدین بریالی شی تاسو په افغانستان کی اوسیدل غوره ګڼی ؟

دی پوښتنی ته دواړو په یوه ژبه ځواب ورکړ : موږ بیرته خو دازادی دمشال سره په هلته ورننوځو .

(۱) دفیض او غیرت دامرکه ډیره پخوانی ده تردی وروسته حالاتو کی زیات بدلون راغی دمنځنی اسیا زیاتو ډلو په روښانه ډول دمجاهدینو پرخلاف دجنګیدلو څخه ډډه وکړه اوبالاخره روسان دی ته مجبور شول، چی داسلامی ریاستونو پوځیان بیرته روسی ته ولیږی .

هغوی قوماندان ناصر ته په ماته ګوډه عربی څه قرانی ایات هم ولوستل کوم چی دوی له خپلو پلرونو زده کړی ؤ .

کله یی چی دقوماندان ناصر اطمینان لاس ته راوړ هغه یی دروسی پوځ له کمزوری خبر کړ دهغوی پوځی مرکزونه یی ورته وښودل مجاهدینو ددواړو ډیر زیات قدر وکړ اواوس چی چیرته ځی مجاهدین هغه نورو خلکو ته داسي ورپیژنی .

> نیکولای سرګي وایي روسي صاحب منصبان اوپوځ په نړۍ کی ترټولو ظالم دي هغوی بواځې دد ی په خاطر خپلو لاس لاندی افرادو باندی ظلم کوي او هغوی ته سزا ورکوي چی ددوی رعب او ډار پری پروت وي

دافیض اوغیرت دی، دمنځنی اسیا دمسلمانانو دویښتیا اوغیرت سمبول .

زه سخت تبې شوی وم، زرګل نومی یوه مجاهد زه پورته کړم اودمجاهدینو په مرکز کی یی شپږ میاشتی زما علاج وکړ، دتبې دعلاج ترڅنګ، څنګ یی زما پر زړه هم دایمان اواسلام انځورګری وکړه، ترروغیدلو دمخه می داسلام دین ومانه اواوس زما نوم « محمد دین » دی .

«بوندروف نیکولای سرګی» چی دتاجکستان اوسیدونکی ؤ اواوس یی پر ځان"محمد دین"نوم ایښی دمجاهدینو سره په یوی نښتی کی ټپی شو .

ملګرو هغه پریښود اوتری وتښتیدل خودښمنانو یی پر ټپونو پټی کیښودی او په دی توګه دپرون سرګی نن مجاهد شو اوخپل خدمتونه اوهلی ځلی یی اسلامی امت ته وقف کړی .

دتاجکستان دنورك ښار ۲۱ کلن نیکولای کله چی په ۱۹۸۲ کال کی دثانوی روزنو تریښپړیدو وروسته کورته راغی هیڅ فکریی نه کاوه چی هغه به پنځه میاشتی وروسته پوځی دندی ته راغوښتل کیږی اوهغه ته به د افغانانو دوینو بیولو په خاطر افغانستان ته دتګ امرکیږی، دهغه پلار دتریکټر دریور دی، هغه یوه وره خورااویووړکوټی ورورلری .

موراوپلار یی په هیڅ قیمت دخپل زړه دقطری بیلتون نه غوښت خو کله چی د۱۹۸۲ کال دنومبر په میاشت کی هغه دسائیبریا دواورینی سیمی یوه پوځی مرکز ته وغوښتل شو هغوی حتی احتجاج هم پری ونکړ ځکه هغوی پوهیدل چی په روسیه کی داحتجاج جزاڅه ده .

په سائبریا کی یی شپږ میاشتی دقوماندان پت پلکوف په مشری په واورینو غرونو کی دمورچو جوړولو دنده سرته ورسوله ترهغی وروسته دازبکستان مرکز تاشکند ته ولیږل شو، هلته یی په تپاکلی موده کی دنورو پوځی زده کړو ترڅنګ دبیلا بیلو وسلو چلول هم زده کړل .

اوچی کله یی پوځی زده کړی سرته ورسیدی د۱۹۸٤ کال دجولای په میاشت کی افغانستان ته راولیږل شو، دتاشکند څخه دالوتکی په وسیله دنورو ملګرو سره یو ځای دکندز په هوایی ډګرکی راکوز شول په دی ځای کی دیوی شپی ترتیرولو وروسته دبغلان له لاری پلخمری ته واستول شو، په دی ځای کی هغه سپی وخوړ، خودکابل ښارپه یوه روغتون کی یی علاج وشو اوبیرته پلخمری ته واستول شو .

دمجاهدینو پرضد دخپلی لومړی جګړی دپیښو دبیانولو په ترځ کی محمد دین وویل :

« په پلخمری کی زما

په (٦)مخ کی

په تیر پسې

کار باید اهل کارته وسپارل شي

مولانا عبدالمجید

په همدی ډول دطالوت صاحب په باره کی دالله (ج) دحکم څخه په ډاګه څرګندیږی چی اصل او بنیاد دمشرتابه اوقیادت علمی اوجسمی استعداد دی نه نسبونه ، مالونه...

لکه چی الله (ج) فرمایی ترجمه: اووویل دوی (بنی اسرائیلو) ته پیغمبر ددوی یقیناً الله(ج) په تحقیق سره طالوت تاسوته امیر اومشرمقرر کړی . دوی(بنی اسرائیلو) وویل :

څنګه کیدای شی طالوت لپاره په موږ باندی مشری اوقیادت . موږ ښه لایق یو دامارت لپاره دطالوت څخه ځکه ده (طالوت) لره پراخی دمال اومتاع نشته دهغه وخت پیغمبر دوی (بنی اسرائیلو) ته وویل یقیناً الله (ج) دی (طالوت)غوره کړی دی په تاسو باندی دامارت لپاره اوده (طالوت) لره خدای ج ورکړی دی زیاتوالی په علم ،پوهه اوبدن کی . یعنی ښه عالم دی اودښه بدن اوصحت خاوند دی اوالله (ج) امارت اوپاچهی ورکوی هغه چاته چی دخدایتعالی خوښ شی (الایة) نودخدای ج په وړاندی دچامالداری ،خانی ، ملکی ، نسب ، قومیت ، وطنوالی ...هیڅ اهمیت نلری بلکه دالله (ج) په وړاند ی هغه څوك محترم دی چی دخدای (ج) حکم منونکی وی اودالله اطاعت کوونکی وی .همدارنګه دکافراومنافق مشری په مسلمانانو باندی مردوده ده ځکه الله (ج) فرمایی ترجمه : هرګز الله (ج) نه ده

ګرځولی، دکافرانو لپاره لار په مومنانو باندی (الایة ۱۶۱ سورة النساء) دټولو څخه لویه لار اواثر خودادی چی کافر اومنافق مشروی مسلمانان یی دلاس لاندی کاراوژوند کوی اوهم واقعیت دادی چی داسی بی اساسه اوبی عدالته عمل دځیرکو اوپخو مسلمانانو دروح او دماغ ته دضرر رسولو څخه نور څه شی نلری اوډیر تاسف ځای دی چی کافر یا منافق وړاندی امر وی ...

اوپه تیره بیا په داسی شرایطو کی چی دهمدوی دلاسه ورځ په ورځ مسلمانان په رنګ رنګ ډولونو په شهادت باندی محکوم شوی وی اولا محکومیږی به ...

اودافغانستان موجوده اسلامی انقلاب ته دداسی عواملو په سبب دومره تاوانونه رسیدلی او رسیږی چی جبران کول یی دافغانی مومنانو دوس څخه پوره نه دی اوهمدغسی غیر عادلانه کړنلاری داسلامی انقلاب وروستی بری اوړدوی اودکړکیچو سره یی مخامخوی چی ددی خبری څخه انکارکول معقولیت نلری ځکه دایو ثابت حقیقت دی ، نو هرڅوك چی دقران کریم داایتونه یانورلولی او وړاندی پوهیږی اما بیا هم ورباندی عمل نکوی نوګنهکاردی اوکه قصدا یی نه مراعت کوی اوانکارورڅخه کوی بیا خو داسلام څخه وتلو ته نږدی کیږی اوکه وړاندی نه پوهیږی نوبیا داشخص

پخپله دامارت جوګه نه دی ځکه ناپوهه اوجاهل دی اوبی علمه اوناپوهه دمشرتابه اهلیت نلری نوداشخص پخپله باید دمسلمانانو دمشری اوامارت څخه لاس په سرکړیشی ځکه کله چی یو بی علمه اوبی تجربی اوکم عقله امرشی نو نتیجه دعمل په یی له هلاکت اوبربادی څخه نور څه نه وی دنااهله بی علمه اوبی تجربی مشرانو اوواکدارانو په اړوندیو عام ضرب المثل دی چی وایی په یو کلی کی یو ښکاری سړی ؤ دی ښکاری یوه ورځ یوه مرغی ښکارکره هغه مرغی

> دخدای (ج) په وړاندي دچامالداري ، خاني ، ملکي ، نسب ، قومیت ، وطنولي ... هیڅ اهمیت نه لري بلکه دالله (ج) په وړاندي هغه څوك محترم دي چي دخداي (ج) حکم منونکي وي اودالله (ج) اطاعت کوونکي وي

په ونه کی ونښته داښکاری ونی ته په څه چم ورو خاته کله چی ورپورته شو په ونه کی دبیرته راکوزیدو طریقه ورڅخه هیره شوه دکلی خلك ورته راټول شول اما په چاره یی پوه نشول په دی وخت کی یو تن وویل فلانی مشر اوامر صاحب راوبلی ډیر پوه ، مشر ، باتدبیره اودتجربی والا شخصیت دی مشر چی کله راحاضرشونو امریی وکړ یوه محکمه اومظبوطه رسی راوړی خلکو رسی راوړه په څه طریقه یی پاس ونه کی ښکاری ته ورسی یوسر وروړساوه نومشر ورته وویل ځان ښه کلك په دی رسی باندی وتړه هغه چی کله خپل ځان دوه دری بنده

وتاړه نو دکلی مشر صاحب څلور پنځه تکړه ځوانانو ته امروکړ چی رسی ښه کلکه ونیسی کله چی ځوانان سه منظم شول نو تجربه کارمشردی ځوانانو ته وویل چی کوم وخت زه یو اواز درکړم تاسو به ځانونه اماده کړی چی دوهم ځل نعره دروکړم نو لږ.شانته ټکان به رسی ته ورکړی خوکله چی دریم ځل غږ.درباندی وکړم نو تاسو به په یو وار ټول طاقت پکار واچوی اورسی به دخپل ځان خواته راکاږی کوم وخت چی مشر ورباندی غږ وکړ هغوی خپل ټول توان پکارواچاوه اوښکاری یی په ځمکه راپری ایسته نومشر په مزه مزه ور روان شواودښکاری ترڅنګ ودرید چی ګوری ښکاری دمشر صاحب دپوهی ، تدبیراوتجربی قربانی شوی اوخپل روح یی حق ته سپارلی نومشر تجربه کاروویل چی ددی خوار کی نصیب راغلی ؤ اونور یی نیته پوره وه اودژوندانه وخت یی په دنیا کی ختم شوی و که نه خدای (ج) شته چی ماپه دی رسی باندی سلګونه سړی دکوهیانو څخه ژوندی راویستلی امادده اجل پوره ؤ دادکلی هغه امر ، سیال ، مشر تجربه کار ، باتدبیره اویوه سړی ؤ چی دونی قیاس یی په کوهی باندی وکاوه .

داسی واقعات اوپیښی دهغو ټولو مشرانو اوامرانو ... څخه پیښیږی کوم چی دخدای (ج) دفرمان سره سم امارت ته نه وی رسیدلی اودرشته داری ، کلیوالی ، قامولی ، خپلولی ... په اساس مقررشوی وی نو دایو عام فرمول شو چی اوس هرڅوك وړاندی خپل ځان اونور تللی اومعلومولی شی همدارنګه په عربی ادب کی یوه مقوله ده چی وایی کله چی کارغه دقوم او ملت مشر او قائد شی ژردی چی دهلاکت لاربه ورته وړپه ګوته کړی .

دیو باایمانه ، باوجدانه ، باشرفه ، با علمه مسلمان په صفت هرسړی باید هغه څه وکړی او غاړه ورته کښیږدی چی کوم ورته دخدایتعالی لخوا رااستول شوی وی ، او دالله (ج) دحکم او کتاب په وړاندی باید دانسان نفسی غوښتنی او بیځایه هیلی اوکردار چی شرعی اصل ورته موجود نه وی وغورځولی شی .

نودکار دسپارلو په اړوند هم باید دالله (ج) حکم اوفرمان په کړه اوکوتلی توګه ومنلی شی ترڅو دالله (ج) رضا مندی اودخپل ځان همیشنی ښیګنی ته ورسیږی ځکه چی دکار اووظیفی سپارلو موضوع دومره مهمه مسله ده چی که یو نا اهله سړی په یو ځای دیو کار امر شی ممکن ټوله ټولنه بدمرغی اودربدری سپیری لمنی ته ورغورځوی ځکه که امارت په ټیټه درجه وی اوکه په لوړه سطحه وی داصل او بیخ حیثیت لری اوهروخت چی بنیاد اواصل خراب شی فرع ورسره طبعا خرابیږی ځکه داصل په فرع باندی مستقیم تاثیر وی ، ددی ذکر شوو حقیقی

اوربنستینو اصلونو څخه په پیروی سره اسلامی جامعی لپاره پکاردی چی هرچالره دهغه دشان ، حیثیت ، علمیت ، پوهی ، تجربی ، ذهنی اوجسمی استعداد سره سم کاروړپه ګوته کړی .

په یوه اسلامی ټولنه کی باید دهقان ته ددهقانی کاروړکړی شی ، نجار ته دنجاری ، عالم ته دعلم ، فنی ته دفن ، قائد ته دقیادت ...

هسی نه چی پښن ډاکتری او داکتر ته زرګری ، موچی ته محراب او مولوی ته الوتکه ... ورو سپارل شی .

البته یوه موضوع چی دیادولو وړده هغه ممکن داوی چی کیدای شی ځینی کسان ووایی چی دابښن ،موچی ... خوبالقوه ددی جوګه دی چی ډاکتر، مولوی ... دی ترینه جوړشی اما اساسی مسله داده چی په هر انسان کی بالقوه په کم اوزیات انداز څه ناڅه دامتره شته چی دپښن څخه دی ډاکتر جوړشی دوخت په تیریدو اودعینی اوذهنی شرائطو دبرابروالی په موجودیت کی اما داخبره دقناعت وړنده ، بلکه درسته خبره داده څرنګه چی انسانی نسل دځمکی په مخ همیشه جریان لری یعنی واړه لوئیږی لویان مړه کیږی اودنن ورځی بچیان دسباورځی پلرونه جوړیږی ، اوپه همدی ډول ددنیا کارونه هم دوام لری اوترهغه وخته به دوام ولری چی انسانان موجودوی .

نوڅرنګه چی داټول شیان دجریان او حرکت په حال کی دی نو ددی سره باید هر وخت کار هم هغه چاته وروسپارل شی چی دکار دسرته رسولو هراړخیزاستعداد ولری .

موږ په افغانستان کې څه ...

دوهمه اونی په پوره کیاو ؤه د« دهنه غوری » په سیمه کی دمجاهدینو په لاس دوسلو ډك موټر دنیولو خبرمی واورید ،دهمدی موټر دبیرته لاس ته راوړلو په خاطر موږته دنده راوسپارل شوه ، موږپه لاره کی روان و چی په یوه ځای کی زموږ دوسلو ډك موټر دمین سره مخامخ شو ،

سخته چاودنه وشوه ، دموټر دیوی ټوټی سره زه هم لری ولویدم ، څنګه چی پرځمکه ولویدم ومی لیدل چی نور پوځیان پورته شول اوپه تیښته شول ، زه هم پورته شوم اومنډی می کړی خوپه همدی وخت کی یوه ګولی راغله ولګیدم اوبیرته ولویدم ، دمجاهدینو دراکټ لانچریو ډز هم یوه ټانك سره دسورلیو دخاورو سره خاوری کړ ، زموږ ټولو ملګرو مورال کمزوری شو اوپه تیښته شول ،خو زه په داسی بدحالت کی وم چی دځای څخه می حرکت هم نشو کولی ، دلبر ځند وروسته یو مجاهد زما ترڅنګ راغی ، په سرکی هغه فکر وکړ چی زه مړیم خوکله یی چی ولیدم ژوندی یم پورته یی کړم اودلومړنیو طبی مرستو په خاطر یی خپل مرکز ته بوتلم ، دمجاهدینو قوماندان امروکړ چی باید زرترزره زما علاج وشی ، شپږ میاشتی زه دتداوی لاندی وم ، یوه عالم به دقرانکریم ایتونه لوستل او پرمابه یی چف کړل ، دمجاهدینو دمینی اومحبت له امله زما په زړه اوفکر کی یو لوی انقلاب راغی ، دافکر زما لپاره رهنما وګرځید چی ملګروزه دمرګ لپاره پریښودم اودوی وتښتیدل خو زمادښمنان ماته مسیحا وګرځیدل .

یوبل روسی پوځی «فیروز » چی دتاجکستان اوسیدونکی ؤ له ماسره و موږدواړو دمجاهدینو څخه اسلامی تعلیمات زده کړل ، مجاهدینو زموږپرټپونو پټی لګولی ، اوددی سربیره یی زما پر زړه اوفکر باندی دایمان اویقین تصویر وکښلو دلته زما جسمی ناروغی اوټپونه روغ شول دلته زما فکری ناروغتیا هم روغه شوه ، مااسلام ومانه اواوس زه « نیکولای سرګی » نه محمد دین یم »

محمد دین اوس دمجاهدینو سره په یوی ازادی سیمی کی اوسی اوتر روغیدو وروسته یی دده‌نه غوری مجاهدینو سره په زیاتو عملیاتو کی برخه اخیستی یوه ورځ کله چی روسانود کارمل دګوډاګی پوځیانو په مرسته مجاهدینو باندی حمله وکړه محمد دین هم دمجاهدینو له مرکز څخه ددفاع په ډله کی شامل ؤ ،روسانو سره ټانکونه هم ؤ او دالوتکو له مرستی هم برخمن ؤ په لومړی ځل‌ددی له امله یی په زړه کی ویره پیداشوه چی یوه کمزوری ډله دیوی قوی پوځ سره مقابله کوی خوکله یی چی مجاهدین ولیدل بی ویری په جګړه بوخت شو اوددښمن پرپوځ یی مرګونی ګذارونه وکړل دی هم په یوی خاصی جذبی سره جګړی کی شریك شو اودځان دراتلونکی په باب یی هیڅ فکرونکړ هغه دیوه داسی مجاهد مرستیال ؤ چی دراکټ لانچرچلولو دنده یی درلوده محمد دین په راکټ کی ګولی کیښودلی اوهغه بل مجاهد به نښنی ویشتلی دهغه دراکټ ددزو له امله څلور ټانکونه له منځه لاړل

نور بیا

دکمونست رژیم ځلورپوستي فتحه اوپنځوس تنه يې مجاهدينو ته تسليم شوي دي

دکمونست رژیم ځلور پوستی فتحه او ۵۰ تنه یی دوسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دي

بلخ میډیا :

دبلخ ولایت نه دقوماندان مولوی جمعه دراډیویی پیغام په حواله میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چې دشولګری ولسوالی مجاهدینو ددوه راکټی بریدونو په ترڅ دبلخ ولایت د(چشمه شفا) تنګی په کمربندی پوستو باندی دثور ۱۲ او۱۴ می نیټی په حملو کی دلاری څارنی ځلورپوستی فتح کړی اودرژیم قواوته یی سخت ځانی اومالی زیان اړه ولی دی .

رپوټ زیاتوی درژیم پاتی ملیشه نوروپوستو ته په تیښته بریالی شوی او دمجاهدینو څخه دوه تنه شهیدان او ٦ نور ټپیان شوی اومتقابله ډزی دوام لری .

دغه راز «میډیا» ته دبلخ ولایت نه قوماندان میربت خان دراډیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړشوی چی ددغه قوماندان مجاهدینو دیوی چریکی حملی په ترڅ کی ددولت آباد ولسوالی د(باغ ذخیری) په کمربندی پوستو باندی حمله وکړه چی پکی درڅ یم ٥ تنه عسکر وژل شوی دوه ټپیان اودری نوریی دیوی ماشینداری ، پنځه کلشنکوفونو اویوی اندازی مهماتو سره ژوندی نیولی دي .

رپوټ وایی پدی حمله کی مجاهدینو ته کوم زیان ندی رسیدلی .

رپوټ زیاتوی دمجاهدینو دعمومی اسلامی عفوی په اساس دکابل رژیم (٥٠) تنه عسکر اوملیشه دبلخ په دولت اباد کی له مجاهدینو سره دارتباط له مخی د(خواجه پارساولی) دغونډ مجاهدینو ته تسلیم شویدی رپوټ زیاتوی چی تسلیم شوو عسکرو یومبیل هاوان توپ ،دری سپکی ماشینداری ١٤ میله کلشنکوفونه مجاهدینو ته حواله کړی او هم یی خپلی کورنی درژیم دتسلط څخه ازادو سیمو ته انتقال کړیدی

رژیم مناطق وسیع را درهرات بدون هدف بمباردمان مي نماید

حملات هوایی طیارات رژیم بر مواضع مجاهدینو ومحلات مسکونی درمناطق مختلف ولایت هرات که از هفته پیش اغاز شده با شدت هرچه تمام ادامه دارد .

گزارش نمایندگی میدیا ازکویته به نقل از پیامهای رادیویی قوماندان اسمعیل خان از ولایت هرات حاکیست ، بمباران های هوایی رژیم بر مواضع مجاهدین ومحلات مسکونی در اطراف شهر هرات وولسوالی زنده جان درغرب ولایت که با اتش توپخانه وحملات راکتی همراهی میگردد همچنان ادامه داشته ، خسارات مالی وتلفات جانی فراوانی برمجاهدین ومردم محل وارد اورده است .

گزارش می افزاید : میزان خسارات وارده ناشی ازین بمبارانها که روزانه از ۲۰ الی ٥٠ مرتبه به صورت دوامدار انجام میگیرد مشکل بوده است اما ازولسوالی زنده جان از تلفات وسیع مواشی تخریب بی شمار منازل مسکونی ، باغها وزمین های زراعتی راپور داده شده است .

طی این حملات هوایی دراطراف شهر هرات ٥ تن از مجاهدین و ۲۰ نفر از اهالی محل شامل زنان ، اطفال و ریش سفیدان شهید و ۳۰ تن دیگر از اهالی انجا مجروح گردیده اند .

طبق راپور سلسله این حملات بی رحمانه هوایی تاهنوز ادامه دارد .

طبق یك خبرد یگر میدیا طی عملیات جداگانه مجاهدین درولایات هرات وزابل دو نفر از عساکر رژیم کابل هلاك ، شش نفر زخمی و ۱٥ تن دیگر اسیر گردید .

تلگرام قوماندان اسمعیل خان حاکیست که مجاهدین بتاریخ ۱۹ ثور بالای مواضع دشمن درمنطقه تګاب ولسوالی اوبی هرات عملیات اجرانمودند که برعلاوه غنایم دو نفراز عساکر رژیم کابل هلاك شش نفر زخمی و شش تن دیگر را اسیر نمودند .

مجاهدینو په بادغیس کی د۳۸ کلیو په شمول یوه دوره ازاده کړی

بادغیس ، میډیا :

په پښتنور کی دمجاهدینو یو خبر ځای دبادغیس ولایت دیوه قوماندان دراډیو یی پیغام په حواله میډیا ته رپوټ ورکړچی مجاهدینو دبادغیس ولایت دقلعه نو مرکز په لمرختیزه (٥٠) کیلومتری کی دجوند په ولسوالۍ دکابل رژیم په نوُجوړو شوو پوستو باندی دیوی اوږدی جګړی په ترڅ کی دثور په ۱۰ مه نیټه دالمتادره د ۳۸ کلیو سره اوددښمن یو شمیر نوری پوستی فتحه کړی (۱۷) ملیشه یی وژلی او ۲۷ تنه نور یی دملیشه ؤد قومندان محمد اصف سره ژوندي نیول شوی دی .

درپوټ مطابق دکابل رژیم نوموړی ملیشه ددوه میله زیکویك ، یو توپ ۷٥ ملی متری ، ۲ هاوانه ، دری میله راکټ ، دري پیکا ماشینداری یوی دهشکی اوسل میله کلاشینکوفونو سره څه موده مخکی دکابل څخه په ۱۲ ترانسپورتی الوتکو کی دجوند په ولسوالۍ کی ځای پرځای شوی و ، مجاهدینو دجګړی په ترڅ کی یو شمیر زیات نظامی اولوژستیکی مهمات په غنیمت نیولی دی .

کشمیري مجاهدینو لس کسه هندي پوځیان ووژل

سرینګر ، دثور ۲۹ مه :

په نیول شوی کشمیر کی دتیرو ۲٤ ساعتونو په جریان کی دهندی یرغلګرو پوځونو اوکشمیري ازادی غوښتونکو مجاهدینو ترمنځ په یو لړ نښتو کی له دیرشو څخه زیات کسان مړه شوی دی .

په وژل شویو کسانو کی کشمیری مجاهدین ، دپولیسو افسران اوهندی پوځیان شامل دی .

همدارنګه دنیول شوی کشمیر څخه په یوه بل خبر کی ویل شوی چی ازادی غوښتونکو مجاهدینو دنیول شوی کشمیر «دسوپور مضلعی ته نژدی په یوه پوځی کاروان حمله وکړه چی دهغی په نتیجه کی کم ترکمه لس کسه هندی پوځیان ووژل شول .

په خبر کی ویل شوی چی ددی جګړی څخه وروسته هندی پوځونو دغه کلی محاصره کړ، او دخپلو پوځیانو داجسادو دپیداکولو لپاره یی دسوپور اوسرینګر ترمنځ په سرك باندی دتګ راتګ بندیز ولګولو .

بشپړبری دهرارخیز ...

مجاهدینو دواحدی جنګی ستراتیژی له برکته وکولی شول چی ددښمن خورا مهم مرکزونه فتحه کړی اوپه همدی رڼاکی ګوروچی دخوست په فتحه کیدوددښمن دملاتیرمات شو، خوکه دجنګی ستراتیژی دتوحید په څنګ کی سیاسی ستراتیژی نه وی منظمه اومتحده شوی دمجاهدینو جنګی بریالیتوبونه اوفتوحات به بیا هم دنړیوال استعمار دناوړه تبلیغاتو اوتوطئو ترګواښ لاندی وی.

اوس چی په هیواد کی جنګیالی قوتونه دیوی سرتاسری شوراپه چوکاټ کی دواحدی جنګی ستراتیژی ادانه ایښی اوپدی بریالی شوی چی ټول جهادی قوتونه یوه لوری ته سوق اوپه کارواچوی ضروری ده چی دانقلاب سیاسی بعد هم دیوه متحد اوپیاوړی دریځ په غوره کولوسره دیوه نوی تحرك پړاو ته ورسول شی .

که داسی نه وی اوپه پوځی ساحه کی دمجاهدینو دبریالیتوبونو ترشاسیاسی اودیپلوماتیك واحد حرکت او پشتوانه نه وی موجوده دمجاهدینو نظامی پرمختګونه په سیاسی اونړیواله سطحه بی وارثه پاتی کیری اوځومره چی دمجاهدینو دفتوحاتو عظمت اوقوت ایجابوی دداسی استفادی زمینه به نه ورته مساعدیږی .

له همدی ځایه ده چی په زغرده ویلی شو چی دانقلاب دبری په لاره کی دجنګی ستراتیژی دتوحید دوهم قدم به دیوه متحد سیاسی اودیپلوماتیك حرکت اوفعالیت پیلول وی خوپه پوځی او سیاسی دواړو برخو کی انقلاب دیوه متحد او ځواکمن قوت په لرلو سره داستعمار له ټولوتوطئو اودسیسو څخه خوندی او دوروستی اوبشپړ بری سرمنزل ته ورسیږی .

ان شاالله

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي ...

شوی ؤ یوه موده بندي خانه هم تیره کړه دغو دوو دامین سره نږدې اړیکې درلودې) دخیبر قاتل په نوم ونیول شو روسانوادعا وکړه چې خیبر دامین په دستوردنوموړی پواسطه وژل شوی دی اما عارف عالمیار وکولی شول چې دروسانوله لاسه وتښتي خوډیر زر ددوهم ځل لپاره په وزیر اکبر خان مینه کې دده دخور په کور کې ونیول شو اوپه عاجل ډول سره یې له منځه یوړ دلته وو چې روسانو پرچمیانو ته بریتونه تاوکړل چې ګڼې ددوی دخیبر انتقام یې واخیست .

خیبر دثور له کودتا څخه یوه هفته مخکې ماښام دهغه سرك پرغاړه ووژل شو کوم چې ددولتی مطبعې شمال شرق خواته تیر شوی ؤ. دهغه جسد یې په همغه شپه خپل کورته (زړو مکرویانو ته) نقل کړ اودورځی له خوا دخلق اوپرچم ډلو غړي په زړو مکرویانو کې دهغه بلاك مخ ته راټول شول په کوم کې چې دده جسد ایښودل شوی ؤ په همدې ورځ دمحمد داؤد پولیسو نوموړی جسد عدلي طب ته چې دکابل پوهنتون په ساحه کې یې موقعیت درلود انتقال کړ دکې، جی ، بی په دستور دخلق اوپرچم مشرانو خپلو صفوفو ته خبرورکړ چې دپوهنتون په ساحه کې دعدلی طب مخامخ راټول اوذکر شوی جسد دکابل ښار په کوڅو کې وګرځوی .

دخلق اوپرچم ډلو غړي دعدلي طب مخامخ راټول شول خو پولیسو دغه جسد په ډیر مهارت اوهنرسره دعدلي طب څخه وایست اودهغه کور ته یې یو وړ. خلقیان اوپرچمیان هم زړو مکرویانو ته ورغلل خو دشپې لخوا یې زیاتره راټول شویو کسانو ته دستور ورکړچې خپلو کورو ته ولاړ شي اوپه سبایې دولایتونو اوکابل ښار ټول غړي راوغوښتل .په دوهمه ورځ دنوموړو ډلو زیاتره غړي دخیبر کورمخې ته راټول شول اوددولسو بجو په شاوخوا کې یې دهغه جسد په موټر کې کېښود اوترشایی راټول شویو خلقیانو اوپرچمیانو حرکت پیل کړ ، جسد یې دهغې مطبعې مخامخ تیر کړ دکومې مخ ته چې قتل شوی ؤ اودامریکا متحده ایالاتو سفارت څخه دتیریدو په وخت کې یې چی څه خولو ته ورتلل ویې ویل او دپل-خشتي ترجوماته پورې دښځو سازمان غړیو هم نوموړی جسد په داسې حالت کې بدرګه کړچې سرونه یې لوڅ اومینې ژوبونه یې اغوستي وو. دکابل بالاحصار جنوب ته په هغه هدیره کې چې دخیبر جسد خښنیده غونډه جوړه شوه تره کی اوکارمل هغه څه ولوستل کوم چې پخوا لیکل شوي وو سلیمان لایق اودستګیر پنجشیري دپښتو اودری لیکل شوي شعرونه ولوستل خومهم ټکی چې دکارمل لخوا وویل شو داؤ چې «دامرګ راوړونکی سکوت باید مات شی »، ددې څخه دخلقیانو اوپرچمیانو هدف داؤ چې نور نو لکه څنګه چې نن مو تظاهرات وکړل دلزوم په صورت کې په راتلونکې کې هم دوام ورکوو اوکه چا مخالفت کاوه نو هرڅه ته تیاریو

(دداؤد په رژیم کې مظاهرې اواعتصابونه بې له ملی انقلاب ګوند څخه چې داؤد یې په راس کې قراردرلوداودسیاسي فعالیتونواوګوندونو موجودیت غیرقانونی اعلان شوی وو). دخیبر دخښنیدو مراسم پای ته ورسیدل خو په دریمه ورځ یې دخلقیانو اوپرچمیانو دمرکزي کمیتې اکثریت غړي چې کارمل اوتره کی هم پکې موجودوو بندیان کړل دافغانستان راډیو څخه یې ددوی اوددوی دپلارونو نومونه په داسې شکل اعلان اوذکر کړل لکه چې عادي غله یې نیولي وي.

راډیو زیاته کړه چې دغو کسانو دقانون څخه خلاف عمل کړی دی او قانوني چلند به ورسره وشي . «نوربیا»

پیروزیهای جدید جهادی

مژده پیروزی ...

درینجا فتح ولسوالی خواجه غار ولایت تخار ، فتح ولسوالی چمتال ولایت بلخ ، فتح ولسوالی قیصار ولایت فاریاب ، فتح ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز ، فتح ٦٤ پوسته رژیم کمونست درسرپل ولایت جوزجان وغیره را میتوان برشمرد که این فتوحات درطول مدت کمتر از دوماه صورت گرفته است .

بهمین ترتیب عملیات وسیع وگسترده درولایات هرات ، کندهار ، غزنی ، پکتیا (گردیز)،کابل وغیره ساحات همین اکنون جریان دارد وموفقیت های مجاهدین روز تا روز بزرگ وبزرگتر میگردد هزار هاتن از عساکر ، صاحب منصبان ، ملیشا وطرفداران رژیم کابل با استفاده از عفو عمومی نیروهای جهادی از همکاری با رژیم دست کشیده به صفوف مجاهدین پیوسته اند .

رژیم مزدور کابل از حملات موفقانه رزمندگان دین ووطن باشکست فضیحت باری روبرو بوده که یگانه راه وچاره اش را دربمباردمان وحشیانه مناطق مسکونی وفیر راکت های سکد وغیره بالای مناطق مسکونی هموطنان بی دفاع مامی بیند اما بیادداشته باشند که بااینگونه اعمال غیر انسانی هرگز نخواهد توانست اراده وعزم راسخ مسلمانان افغان را تغیر دهد بلکه هنوز هم برجنایات خویش درمقابل هموطنان افزوده نفرت وانزجار مردم رادربرابر خویش دوچندان میسازد .

طاقت های ضد اسلامی ومحافل طرفدار روس سعی می ورزند ، ناکامی وسقوط رژیم درحال زوال کمونست کابل را ناممکن جلوه داده ودرپی ان برامده اند تا مسئله افغانستان ازطریق مفاهمه با رژیم پوشالی نجیب حل گردد ، وچنان حکومتی را در افغانستان تشکیل نمایند که مطابق میل وارزوی روس ها و نیروهای دیگر کفری قلم بردارد .

رهبران تنظیم های جهادی درین اواخر به یك سلسله اقدامات ودیدوبازدید های مخفی وعلنی مصروفند افواهات وگزارشات گوناگونی مبنی برفیصله های نامطلوب ، باورنه شدنی ودور از هدف نهایی مردم متدین ومسلمان افغانستان شنیده می شود که واقعا از شان وحیثیت یك رهبر تنظیم جهادی فرسنگ ها فاصله دارد اگراین افواهات تبلیغات سؤ باشد ما کدام اعتراض نداریم زیرا دشمن همیشه تلاش می ورزد که دربین تنظیم ها تفرقه بیاندازد واگرخدانخواسته حقیقت داشته باشد اگرانها بخواهند با قاتلین یك ملیون وشش صد هزار شهید راه مذاکره رادرپیش گیرند وبخواهند با رژیم بدنام ومنفور تقسیم قدرت نمایند به یقین که جفای بزرگ دربرابر جهادو خون شهدای ما خواهد بود؛زیراحل مسئله افغانستان درصورت نگهداشتن کمونستان برسرقدرت تحقق نپذیرفته و جهاد مقدس مردم مسلمان افغانستان همچنان ادامه خواهد داشت .

پس بهتر است رهبران محترم جهادی درین مرحله خیلی حساس وسرنوشت ساز که مجاهدین دلیر ورزمنده گان اسلام پیروزیهای چشمگیری را نصیب شده ومی شوند ودراستانه فتح وازادی کامل کشور عزیز قرار دارند ، بااحساس مسوولیت وقضاوت وجدان عمل نموده نباید هیچ گامی را مغایر اراده هموطنان مسلمان خویش بردارند .

به یقین ایشان بهتر باین حقیقت ملتفت هستند که جهاد برحق علیه باطل ، جهاد مسلمانان علیه بی دینان وکمونستان درافغانستان هنگامی بسرمیرسد که حکومت اسلامی به دست مجاهدین و مسلمانان افغانستان تشکیل گردد وبس .

په هندکي دانتخاباتي مبارزو په لړ کې تراوسه ٩٤ کسه وژل شوي

نوی ډیلی ، دثور ۲۸ مه :

دهند دمدهیا پردیش په ایالت کی دهند دپارلمان لپاره دانتخاباتی مبارزی په لړ کی یو ځل بیا دهندوانو اومسلمانانو ترمنځ تریخوالی زیات شوی .

خبرونه وائی چی متعصبو هندوانو تیره ورځ دیوی مسلمانی کورنی «٥» کسه غړی یو ځای په شهادت ورسول .

دیوی شمیرنی په اساس دهند دپارلمان داوسنی انتخاباتی مبارزی په جریان کی دبهار ، اترپردیش اولویدیځ بنگال ، په ایالتونو کی تراوسه پوری ٩٤ کسه وژل شوی دی .

همدارنگه دنوی ډهلی نه یوه محلی خبری اژانس رپوټ ورکړی چی دتیری جمعی په شپه دکانگر س آی گوند په یوه جلسه باندی دنامعلومو افرادو له خوا ډزی وشوی چی پکی یو کس مړاو۳۰ تنه نور ټپیان شول .

دهرات په ۱۷مه فرقه باندې دمجاهدينو بريالی عمليات

هرات ، میډیا :

دهرات ولایت په ۱۷مه فرقه باندی دمجاهدینو په برید کی درژیم دمهماتو یوه ډیپو داور لمبه شوه او ٤٠ تنه کمونستان پکی وژل شوی دی .

دهرات له ولایت نه قوماندان غلام یحیی اکبری په کویټه کی د میډیا نمایندگی ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دثور په ۱۹مه نیټه دهرات په ۱۷می فرقی باندی ددرندو وسلو برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم دمهماتو یوه ډیپو سوځیدلی اوبیخی له منځه تللی ده .

رپوټ وایی چی په دغه برید کی درژیم ٤٠ تنه عسکر او منصبداران هم وژل شوی دی .

همدارنگه پدی نیټه مجاهدینو دفرقی په جنوبی برخه کی درژیم دپلویانو په مرکزونو هم یو برید ترسره کړ چی دهغی په اثر گڼ شمیر افراد مړه اوټپیان شوی دی .

درپوټ مطابق په مقابل کی درژیم قواو دگذری ولسوالی مربوط دمیوشان کلی داورگان توغندیو تربرید لاندی ونیوله چی په نتیجه کی دسیمی داوسیدونکو خلکو یو شمیر ودانی ړنگی اویو شمیر خلك شهیدان اوټپیان شوی دی .

په سمنگانو کې درژیم ځلوېښت تنه مړه او د کابل حیرتان لاره دترافیکو په مخ بنده شوه

سمنگان ، میډیا :

دسمنگانولـه ولایت نـه میډیا ته درسیدلی یو خبر لـه مـخـی مـجـاهـدیـنـو دقـومـانـدانمـولـوی عبدالقدوس په مشری دثور دمیاشتی له ۱۹ می څخه تر ۲۱ می نیټی پوری ددی ولایت په مرکز دایبکو ښارپه نظامی تاسیساتو دخاد پر مرکزاودکابل حیرتان دلـویـی لاری پـه اوږدو کـی دکوتل رباطك پرپوستو بانـدی ددرنـدو وسـلـو ډزی وکړی .

خبروایی چی ددغو ډزو په نتیجه کی دکابل حیرتان لویه لاره دپنجشنبی دورځی نه دشنبی ترورځی پوری دکـوتـل ربـاطك نـه دایبـك ترښاره پوری دترافیکو پرمخ بنده شوی اومجاهدینو یوه پوسته فتح ۳۸ تنه عسکر ددوه تنو خورد ظابطانو په شمول مړه او یو زیات شمیر نور یی ټپیان کړی دی .

په خبر کی ویل شوی چی دایبك نه دکمونست رژیم ۱۸ تنـه عسـکرو ددوو پـوځـی لاریو سره ځانونه مجاهدینو ته ورتسلیم کړیدی .

همدارنگه دیو بل خبرله مخی دثور په ۲۲مه نیټه درژیم دخاد اوه تـنـه غـړی دتـورن مـومـن پـه مـشـری دسمنگانو ولایت دمرکز په دوه کـیـلـومـتـری کـی دمجاهدینو یوی جبهی ته تـسـلـیـم شـوی مـیـډیـا دسمنگانوولایت دیوه جهادی خبر ځای په حواله رپوټ ورکړچی دسمنگانو دولایت دمرکز دایبکو ښار دامنیتی کمربند له پوستو څخه دکیان ملیشی مربوط ۳۰ کسه د٦١۳ کنډك درئیس ارکان تورن فضل الرحمن په مشری دثور دمیاشتی په ٢٤ مه نیټه مجاهدینو ته دایبکو په ښار کی تسلیم شوی .

په خبر کی راغلی چی دملیشه و دغی ډلی دخپلی په لاس لرلی وسلی سربیره دمرمیو او مهماتو پـه لس هاو صندوقه هم له ځان سره راوړی .

دهيئت تحرير ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

يونيورستي ټاون پيښور

تیلفون : ... (۸۱۲۲۵۱)

درجوزجان سه پوسته و ٦٠ تن از ملیشه رژیم بدست مجاهدین افتاد

دفتر شورای قوماندانان به خبرنگار ما گزارش داد که مجاهدین ولایت جوزجان بتاریخ ۱۷ ثور طی عملیات مشترك تعرضی شان برپوسته های امنیتی رژیم در منطقه پشم شویی سید اباد درمسیر راه شبرغان سرپل سه پوسته رژیم کابل را فتح و ٦٠ تن از افراد رژیم رابه سرکردگی قوماندان ملیشه بنام تورن بهرام با سلاح های دست داشته شان اسیر نمودند .

درین عملیات ۷ تن از ملیشه های رژیم کشته ویك تعداد زیاد زخمی شده است .

همچنان یکتن از مجاهدین شهید وسه تن دیگر زخمی گردیده اند.

طبق یك گزارش دیگر درعملیات تعرضی مجاهدین بتاریخ ۱٦ ثور برپوسته های وتاسیسات معادن نفت وگاز درمنطقه جرقدق درچهارکیلومتری شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان پنج تن از عساکر رژیم هلاك گردیده است .

گزارش می افزاید هدف ازعملیات مذکور قطع جریان نفت وگاز توسط پائپ لاین ها ازجوزجان به داخل خاك روسیه بود

که چندین میل سلاح ومهمات مربوط پوسته های مذکور به غنیمت مجاهدین درامد .

په گردیز کی

پدی حمله کی درژیم دقوی څخه ٦ ټانکونه دراکټونو په واسطه دعملی سره له منځه تللی او هم ۲۲ تنه دگلم جم ملیشه په هلاکت رسیدلی دی .

دغه راز اتلو مجاهدینو دثور په ۲۷ نیټه دکمونست رژیم یوه هلیکوپټرالوتکه هغه وخت دستنگر توغندی په واسطه رانسکوره کړه چی د مجاهدینو پرمرکز باندی یی بمباری کوله .

درپوټ مطابق پدی پیښه کی دالوتکی عمله وسوځیده اوپـخـپـلـه دمـجـاهـدیـنـو ترکنترول لاندی سیمه کی ولویده .

رپوټ زیاتوی چی دپکتیا مـجـاهـدیـنـو دگـډې شـورا دپـریـکـړې پـه اسـاس دگردیزښار په شمال ختیځه اوجنوبی خواو کی حملی تندی کړیدی اوجگړه دوام لری .

همدارنگه دیو بل خبر له مخی دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دجبهاتو مربوط داپوجندل غوند مجاهدینو دموکاوی په سیمه کی ددښمن په قرارگاه حمله وکړه چی په نتیجه کی مجاهدینو دبی ام ۱۲ یوه دستگاه ، یو میل دهشکه ، یو میل وسط هاوان او یو میل ۱۲۰ ملی متری توپ اویو زیات شمیر مهمات ولجه کړی دی .

خبرتیا

درنو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډیر درناوي سره خبر درکوو چي :

تاسي کولي شئ دمجاهد غږ راديو خپروني فعلاً دورځي دوه نيم ساعته په لاندي وخت او څپو واورئ:

لومړي سهارني خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له پنځه نيمو بجو څخه تر شپږ نيمو بجو پوري.

دوهمه ماز ديگرني خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازديگر له شپږ بجو اوپنځه څلويښت دقيقو څخه دمابنام تر اتوبجو اوپنځه لسو دقيقو پوري .

څپي :

په منځني څپه میډیم (۱۲۰۰) کیلو هیډز اوپه لنډه څپه ښارټ (۲ . ۳) میگاهیډز چي له (۹۰) متره بایندہ سره سمون خوري او۸ . ٥ ميگاهيډز چي له ٤٩ متره باينډو سره برابره ده .

مکاتباتي پته : پوسټ بکس نمبر(۱۰۳۳) یونیورستي ټاون پيښور

(دمجاهدغږراديو دلوي مديريت له خوا)